ليکونکي: *بل وان اوکن(Bill Van Auken).*

منبع او دنشرولونيټه*: (انفارميشن کليرنګ هوز «۲۰۱۴-۱۲-۳۰»).*

ژباړه اوڅيړونکی: *پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».*

------------------------------------------------------------

# په افغانستان کی دمتحده ایالاتو دجنګ دوام

The Continuing US War in Afghanistan

*ددسمبر په «۲۸» کال (۲۰۱۴) دافغنستان په پلازمينه کابل کی دامريکی دمتحده ایالاتو ترمشری لاندی دبین المللی امنیتی مرستی د قوتونو (ایساف) دمبارزی اود نظامی عملیا تونولړلی ته دپای ټکی کیښودل شو، اودامریکی د متحده ایالاتوجمهور ریس ښاغلی اوباما په همدی مناسبت سره پخپل یو رسمی بیانیه کی زمونږدهیواد(امریکی) په اړین دیوستر ګام په پورته کولو سره داسی یادونه وکړ : **دامریکی دجنګونو په تاریخ کی دا هغه یواځنی اوږد جګړه وه چی په مسولانه پایلی سره پای ته ورسید .***

*دلته دیادونی وړ مطلب دادی او هغه داچی دامریکی دمتحده ایالاتو دجمهور ریس ښاغلی (اوباما ) له ځولی څخه چی هرشي وځی لکه دهغه د نورو تیرو خبرو اویادونو په څیر تقریباً دروغ او لیری له حقیقت څخه بل شی نه دی .*

*لکه هغسی چی د یکشنبی په ورځ د امریکی دمتحده ایالاتومیشتو نظامی قوماند انا نود افغانستان په پلازمینه کابل کی په یو ډیر خوار سپک اوپریوتی کوچنی مراسمو کی دجنګ اود جګړی بیرق راښکته کړل اودهغه په بدله کی دامریکی د متحده ایالاتو یوبل بیرق کوم چی دهغه هیواد ددیارلس کلن خونړی جګړی اوداشغال سمبول ګڼل کیږی وځړول شو او د همدی بیرق په ځړولو سره یوځل بیا نړیوالوته وښودل چی افغانستان د امریکی د متحده ایالاتو تراشغال اوتر ولکی لاندی دی .*

*د بیرقونو د تبادلی اود تعویض مراسم دکابل په ولویدیخ کی دامریکایانو دیو قرارګاه دباسکتبال په یو پوښلی سالون کی دډیر ویری په فضا کی ترسره شو او هغه داچی ددی مراسم مسولو لوړپوړو چارواکو محلی کارکونکو ته ویلی وه چی دځبل ځایونو څخه بی ځایه نشی ترڅوچی د طالبانو په غیر مترقبه اوبی ځا ری یرغل سره په کابل کی هغه ځا یونه کوم چی دامریکی او خارجی نورو*

قوتونو پواسطه سره آزاد شوی دی بیرته دطالبانو تر ولکی لاندی را نه شی .
دامریکی متحده ایالات دافغانستان دتلپاتی اشغال دپاره (۱۸۰۰۰) خارجی سرتیری چی دهغه له جملی څخه (۱۰۶۰۰) سرتیر یی امریکایان دی هغو ته دافغانستان په دننه کی دپاتی کیدو هدایت ورکړی دی.
لکه هغسی کوم چی ویل کیږی لمر په دوه ګوتو نه پټیږی بلکل ریښتیا دی اوداځکه چی اوس ټولو ته معلوم شوی چی دامریکی متحده ایالات لمړی پر افغانستان باندی یرغل وکړ او دغه هیواد یی تر خپل اشغال او ولکی لاندی راوستل اوبیا ددی د پا ره چی په دی هیواد کی د خپل تجاوز د پاره قانونی اوشرعی لاری پیداکړی نو همغه وه چی ایساف(بین المللی امنیتی مرستندوی ځواک ) او دنړی نورو هیوادونو ته بلنه ورکړچی ددی هیواد په اشغال کی دامریکی دمتحده ایالاتو سره ونډه واخلی اوددی بلنی څخه مطلب داوه چی دامریکی متحده ایالات وشی کړلی چی دایساف تر شین بیرق لاندی خپل ستراتیژیکی اهدا ف تر لاسه کړی نو په همدی خا طر د (RS= پریکړی) دکلمی پرځای د (ISAF) کلیمه یی ځای پرځای کړ .
دمخکینی قرار اوپریکړی له مخی دامریکی دمتحده ایالاتو (۵۰۰۰) نظامیان به دافغانستان د ملی اردو اودامنیتی قوتونو د روزنی د پاره به خپل ما موریت ترسره کړی لکه هغسی چی دناتو یو قوماندان په دی موضوع باندی داسی رنیا واچول : ددی (۵۰۰۰) نظامیانو د نده غیر جنګی ماموریت به په یو جنګی محیط یا چا پیریا ل کی وی اود امریکی د متحده ایالاتو نور (۵۵۰۰) نظامی قوتونه مستقل او پرته دنا تو تر سرمشریزه به په ضد تروریستی فعالیتونو کی نقش ولوبوی. حال داچی دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی قوتونه مخکی خپل رسمی کړنی اوعملیاتونه دملګرو ملتونو دپریکړی پر بنیاد د نا تو د سرمشریز څخه په آزاد او مستقل بڼی سره ترسره کول ، اما اوس دغه نظامیان به د خپل کړونو راپوربه هیچا ته نه ورکوی بلکه خپل راپوربه یواځی مشترک ځانګړی عملیاتی قوماندان ته ورکوی او بیاهغه مقام یواځی اویواځی د خپل ماموریت اودکړنو راپور دامریکی جمهور ریس ته وړاندی کوی .
له یاده مو نه باید ووځی اوهغه داچی واشنګټن په لمړی سر کی پر دی باندی ټینګار کول چی دا دول عملیاتونه یواځی اویواځی د القاعده یاغیا نو پر ضد تر سره کیږی کوم چی دامریکایی مقاماتو دادعا سره په افغانستان کی دالقاعدی

غړی ممکن د(۵۰) کسو څخه زیات ونه اوسی اودا پخپله دایسا ف دنده دی چی دغه شمیر دالقاعدی شورشیان دمینځه باید ویسی، دبل طرفه ښاغلی اوباما پخپل یورسمی اعلامیه کی څرګند کړ، چی دا دایسا ف اساسی دنده اوماموریت دی چی نه یواځی دطالبانو په وړاندی بلکه دهرهغه مسلح ګروپونو پر ضد کوم چی دهغه دکابل دګوډاګي رژیم په مقابل کی اسلحه اخیستی دی باید وجنګیږی.

دبلی خوا څخه داچی واشنګټن غواړی دخپل یونفورم سرتیرو په شمیر کی کموالی راولی نو د بلی خوا څخه غواړی چی (۲۰۰۰۰) قراردادی نظامیا ن کوم چی په پاشلی بڼی سره دافغانستان په هرګوټ کی په (۲۵) اډو اوچونیو کی پروت دی دهغو شمیر وسا تی اودا ځکه چی واشنګټن ددی پلان په عملی کولو سره کولای شی چی د دی روانی جګړی مالی سرسام اور اوګیچ کونکی مالی لګښتونه کم کړی کوم چی ددی جګړی ما لی مصارفات د کال (۲۰۰۱) څخه تر اوسه پوری تقریباً (یوتریلیون دالر) اټکل شوی دی .

ددی روانی جګړی له پیل څخه نه چندان لیری دی پایلی ته رسیږو چی ددی جنګ لمن دلاپراخید و په لوړ روان دی اوهغه داچی یواځی سږکال د افغان د ملکی خلکو تلفات نژدی (۱۰۰۰۰) کسا ن تخمین شوی چی په هغه کی یواځی د ملی اردو او د افغا ن د ملی پولیسو تلفات (۵۰۰۰) تنو ته رسیږی سربیره پر هغه دهمدی دیارلس کلن جګړی په اوږدو کی (۳۵۰۰) خارجی سرتیری او له (۲۲۲۵) څخه زیا ت امریکا یی سرتیری له هغه وخت څخه چی پر افغانستان باندی تجاوز شوی خپل ژوند دلاسه ورکړی او له دی نړی څخه سترګی پټی کړی دی .د امریکی د متحده ایالاتو یوکار پوه او نظامی څیرونکی ددی تلفا تواودهغه سره یوځای دافغان له ملی اردو څخه دمنسوبینود تیښتی عامل دافغانی دولت بی ثبا تی ګڼی .

دیادونی بل مهم مطلب چی باید پرهغه با ندی یوڅه تم شو هغه دادی چی دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی هوایی قوتونه کله ناکله د افغان دا منیتی قوتونو سره د مرستی په بڼه اوله دی نه چی هغوی د نظامی عملیا تو په جریان کی د دښمن په ګذارونو سره تار اومار ونشی په یو لړ هوایی بریدونو یا حملی لاس پوری کول ا ما په دی وروستیو دوه کالو کی دغه هوایی حملی یو څه کمه شوی چی د هغه په پا یله کی خصوصاً په دی دوه تیر وروستیو میاشتو کی دخصومت اود شخړی لړی په افغانستان کی زیات شوی دی چی دبیلګی

په شکل یو د دی شخړو اوخصومتونو څخه د لوګر په ولایت کی کوم چی د دسمبرپه (۲۵)تاریخ کی تر سره شو، له هغه څخه دلته یادونه کوواوهغه داچی دلوګر یورسمی محلی منبع دېژواک خبری آژانس ته داسی وویل : د لته په لوګر کی ددوه شبهه نظامیا نو دکورونو دله مینځه وړلو اودتخریبولو په نیت بمباری صورت ونیول کوم چی د هغه په نتیجه کی پنځه غیر نظامیان مړ او شپږ نور ملکی کسان ټپیان شول .

دبلی خوا څخه دافغانستان کاونډی هیوا پاکستان کوم چی دهغه تر شا دامریکی متحده ایالات ولاړ دی اودهغه سره هراړخیزی مرسته تر سره کوی په دی وختونو پاکستان دخپل هیوا په شمال غرب یعنی دافغانستان په پولو کی خپل تهاجمی یرغلونو ته شدت ورکړی اودهغی سره جوخت واشنګټن هم خبل تروروستی او تهاجمی بمباریو ته دخپل بی پیلوتو الوتکو په واسطه سره زیات کړی کوم چی دامریکا له تجاوز څخه پر افغانستان باندی تراوسه پوری دپاکستان تقریباً (۵۰۰۰۰) کسان په مرګ محکوم شوی دی .

**داچی ښاغلی « اوباما» په افغانستان کی پخپل وروستی اعلام کړ شوی وینا کی دامریکی دغه روان جګړه ختم اعلانوی بی له دروغ بل شی نه دی ، هغه ددی جګړی دختمیدو پر دوه اړین عواملو باند ی پځپل توضیحاتو کی تم کیږی اووایی :**

هغه زرګونوامریکایان اوپه لس ګونوزروافغانانوچی خپل ځانونه د ویجاړګر تروریتست اود دالقاعدی درهبر « اوسما بن لادن» د **ځالی** دمینځه وړلو دپاره قربان کړ اوپه خپل قربانی سره هغو نه یواځی دا چی دالقاعدی ډلی ټبلی دخاوری سره خاوری کړل بلکه د ډیری امریکا یا نو وژغورل اوهغو ته مصونیت رامینځته کړل .

بل داچی دغه موضوع دکال (۲۰۰۲) تر اوایلو پوری کوم چی القاعده له افغانستان څخه ایستل شوی دی څوک وربا ندی باور نه کول اوهغه یی بی معنی اوبی مفهوم ګڼل.

تر هغه چی دااوددی موضوع پورتړلی نورپه حال دودی جنبشونه او حرکتونو کوم چی دواشنګټن به مرسته سره تر سره شو دپورتنی ادعا ثبوت دی اوهغه داچی دامریکی د متحده ایالاتو دولت په لیبیا او سوریه کی دهغه رژیمونو دړنګولو د پاره خپل نیابتی قوتونه پکار واچول چی ټولو ته معلوم

شول .
داکتوبرپه نهم کال (۲۰۰۱)کی یواځی دوه ورځ وروسته له هغه چی امریکایانو پرافغانستان باندی تجاوز وکړل او هغه هیواد یی ترخپل هوایی بمبارد لاندی واچول په همدی وخت کی د نړی سوسیالیت ویب پانه(WSWS) دامریکا یانو ددغه اقدام په وړاندی خپل سخت غبرګون ښکاره کړ او د واشنګتن دغه ادعا کوم چی دغه جنګ دامریکی دخلکو دمصونیت د تامین د پاره د تروریزم په وړاندی پیل دی په شدت سره پوچ وګڼل او هغه یی په دی لاندی خبرتیا سره په نشر ورسول :
***دنړی دسوسیالیست دویب پاڼی خبرتیا*** : دامریکی د متحده ایالاتو دولت یوبل بین المللی پراخی خونړی جګړی پلی کړ هغه جګړه کوم چی دهغه هیواد د حا کما نو دپاره په زړه پوری اودهغو دګټو د پاره دلاری اوارول دی
***دلته یو سوال راپیدا کیږی اوهغه داچی ددی جګړی اصلی هدف کوم دی ؟ .***
ځواب یی ډیر ساده اوروښانه دی او هغه دشوروی اتحا دړنګول او په مرکزی آسیا کی یوه لسیزه مخکی د سیا سی خلا رامینځته کول اوبیا وروسته د نړی د نفت اود ګا ز په یوه بی جوړه اولوی زیرمه با ندی کوم چی په مرکزی آسیا کی زیرمه شوی دی لاس بری او تسلط تر لاسه کول دی . ***اوهغه داچی افغانستان د جیوستراتیژیک له پلوه هغه هیواد دی کوم چی د کسپین د بحر حوزی ته دلاس رسی یوه ښه معبرګڼل کیږی اود دافغانستان په دایمی اشغال سره امریکایی پانګوالان اودهغو غټو شرکتونه غواړی چی د کسپین دحوزی تقریباً (۲۷۰)بیلیون بیرل تیل (نفت) چی د ټول نړی دتیلو «۲۰» فیصده اوهم په نوموړی حوزه کی (۶۶۵) تریلیون فوټ طبعی ګاز پر زیرمه شوی منا بعو باندی چی د ټول نړی د زیرمه شوی طبعی ګاز ( ۱/۸ ) برخه تشکیلوی تسلط پیداکړی .***
دیادونی مهم مطلب دادی چی دغه دتیلو اودطبعی ګاز منابع دسیاسیی اندول په کتوسره په یوه بی ثبات او نارام سیمه کی زیرمه شوی دی ، اودهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره دامریکی دمتحده ایالاتو چوپړ ستراتیژیکی کارپوهان په دی باوردی چی پرافغانستان باندی یرغل اوبیا په هغه هیواد کی دیولاس پوڅی رژیم ځای په ځآی کول او نوموړی حوزی ته نظامی لشکر کشی یواځنی لاره دی چی امریکی کولی شی په منطقه کی د ځیل هژمونی د پاره یوسیاسی

چوکاټ جوړ اوځان ته لاره آواره کړی ترڅو چی د همدی نوی سیا سی چوکاټ په رڼا کی په نوموړی حوزه کی دبشپړ کنترل واک ترلاسه کړی .

په هرصورت هرهغه څه چی دامریکی دمتحده ایالاتو چارواکی خپل تکتیک ته په منطقه کی هر بنه ورکوی دهغو خپل کار دی اما یوائی یوشی ته کوم چی دهغو په نظر دجیوستراتیژیک زړه یامحراق جوړوی هغه په افغانستان کی دجنګ دوام دی لکه همغسی چی نن په عراق او په سوریه کی دجنګ لمن ته پراخوالی ورکوی اوغواړی چی په دی هیوادونو کی جنګ تلپاتی شی .

**نن دغه شان سیا سی لوبی ا ویا دا ډول تګل بی له یو د یر لوړ نظامی تهدید او ګواښ څخه بل شی نه ګڼل کیږی کوم چی دامریکی متحده ایالاتو غواړی چین اوروسیه تر خپل داډول نظامی ګواښ لاندی راولی نوپه همدی دلیل سره واشنګټن غواړی چی په دی سیمه کی دشخړی او د خشونت لمن لا پراخه کړی او خپل اهدافو ته لاس رسی پیدا کړی .**

دښاغلی اوباما دا ډول ابلتی اولفاظی چی ګویا زمونږ دیارلس کلن جنګ په افغانستان کی په پوره بری سره ترسره شو ، یوائی یو بل غلطی او بی دعوام ا لناس د تیروتنو ته دلومی له غوړول څخه بل شی نه دی ، حال داچی په افغانستان کی دواشنګټن دتجاوز اود اشغال دوام دنظامی پارید و (تحریک ) یوه برخه ګڼل کیږی کوم چی دامریکی د متحده ایالاتو نظامی جګړه غوښتونکی غواړی چی ددغه نظامی کړکیچ لمن په سوریه ، عراق ، دبالتیک په هیوادونو اود چین دسمندرپه جنوبی برخه کی لاپسی وغزوی .نوپه دی بنیاد د ا او داسی نورنظامی پارونکی اوتحریک آمیزلمسون په نړی کی داخلی دهستوی خونړی جګړی زمینه به برابره کړی اودا به د نړیوال د کارګری طبقی دنده به وی چی ددی امپریالیستی جګړی اودهغه دسرچینی یعنی دسرمایه داری په ضد په مسقل بدلون اوانقلاب باندی لاس پوری کړی او نړیوال ددی خونړی جګړی له ناورین څخه په امان وسا تی .

------------------------------- **په درنا وی**